مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زلمی کرزی

۲۰۱۹/۰۴/۰۲

# د کندهار د ځینو ځایونو تاریخي لرغونتوب

کندهار د افغانستان د سویل ختیځ د سمسورو او زرخیزو ولایتونو څخه شمیرل کیږی، د کندهار شمالی خواته غور، غرچ، سویل خواته یی بلوچستان، ختیځي خواته یی پکتیا او لویدیځی خواته یي سیستان واقع دی.

کندهار د تاریخ په اوږدو کی رازراز پړاونه تیر کړی دي او مدام د زبرځواکونو، سوبمنانو او حکومتونو په مینځ کی ښکیل و، په تیره بیا د دوو ځواکونو یعنی د ایران صفوی او د هندوستان مغولی دولتونو په مینځ کي یی موقعیت درلود مدام به دوی د دغه پراخ ولایت په نیولو کی سیالي در لوده ځکه نو کندهار د مناسب جغرافیایی موقعیت او د موا صلاتی لارو په درلودلو سره اهمیت درلود. ؤلسي پاڅونونه د دغه ولایت څخه د پردیو یرغلګرو په مقابل کي راپورته سوي دي. او دخپل هیواد او خاوری د خپلواکۍ لپاره سرښندنی ورکړی دي نو ځکه یي په افغانستان کی په ملي، فرهنګي او سیاسي تاریخ کي یو روڼ او ځلانده ځای ګټلی دی. او په هر راز المیو (غمیزو) نا خوالو، سړو او تودو کي یی ځان ساتلی او په خپل غیږ کي یي د تاړاکونو او یرغلونو په مقابل کي د ملي یووالي روحیه ژوندی ساتلی ده، مګر د ډیرو تاړاکونو او نا تارو څخه ژوبل سوي خو بیا هم هر تیرۍ کوونکي یا سر پکښی خوړلی او یایي غاښ ماتوونکی ګوزارونه لیدلی دي.

دغه تاریخی پلازمینه د تاریخ په رڼا کي ډیره لرغوني او تاریخي زړه سابقه لری چې د افغانستان د تاریخ لپاره بنسټیز ارزښت لری، ډیرو پخوانیو او اوسنیو شاعرانو یاد کړی او ستایلی دي، خلکو یي له ډیرو اوږدو زمانو څخه د خپل هنر، فن او مدنیت بیلګي، ودانۍ او یادګارونه پری ایښي دي او ډیر ارزښناک تاریخی ابدات پکښی موندل سوي دي.

په ۱۳۲۹او ۱۳۳۰ هجری ش کلنوکي د کندهار په بیلا بیلو سیمو کی د داخلي او د باندنیو هیتونو لخوا څیړني او کیندني تر سره سوي، په پای کي دا زباده سوه چې اراکوزیا (کندهار) د قبل التاریخ له نظره د ټولو تاریخي ځایونو سره تهذیبی تړاو لري او د لرغونو مدنیتونو منبع ده. چې څو بیلګی یي ګرانو لوستونکو ته وړپیژنم.

### ۱-د مونډیګک غونډۍ:



د مونډیګک غونډۍ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ

تل مو دغه خبره اوریده او په مقالو کی مو هم لوستل چي افغانستان پنځه زره کلن تاریخ لري. دغو خبرو ډیر پخوا نظری اړخ درلود، د آریایی سرودونو، اسطورو او په نیمه تاریخي او نیمه افسانوی قولونو متکي وو. خو په وروستنیو وختونو کی زموږ اتکا علمي اړخ وموند او د کندهار د ولایت په یوه غونډی کي چی د مونډیګک په نوم یادیږی، داسي نښاني په لاس راغلی چي د پنځه زره کلونو تاریخي پړاو او تر تاریخ د مخه زمانه کي د افغانستان د تاریخي پخواني عظمت او برم ځرګندوینه کوي.

مونډیګک غونډئ له اواری برخي څخه تقریباً ۳۱متره لوړوالي لري او د کندهار شمال لویدیځ خواته په ۵۰کیلو متری کي د کشک نخود په سیمه کي د شاه مقصود د غره په خوا کي پرته ده.

په ۱۳۴۴هجری ش کال د کندهار لمر لویدیځی شمالی خواته په ۶۶کیلو متری کي د مونډیګک په غونډئ کي علمي پلټني وسوې د ارغنداو په سیمه کي تر تاریخ د مخه دېنځو زرو کالوپخوا د مدنیت د آثارو استازیتوب کوي. پوهان وایي: د کندهار لمر لویدیځي خوا ته د کشک نخود ناوه چي اوس یي زیاته برخه وچه ده، دری زره کاله د مخه د کشک نخود له روده خړوبیدله، کشک نخود سند یو سیلابي خوړدی زیاتره وخت وچ او کله کله په بارانی موسم کي ځپاندیږي. دغه غونډئ دری زره کاله پخوا د اوسیدلو مینه او ټاټوبی وو. اوس د طبعي پیښو له کبله مخروطی شکل لری د هغي لاری پر سر پرته وه چي د ارغنداو، پښین او سند د ناوی خواته د هرات، فراه، او هلمند د خلکو د تیریدو لار وه، همدا رنګه دغه لار د ترنک، غزنی او د هندوکش سویلي سیمو ته رسیدله او د هلمند ناوه یي د ارغنداواو ترنک د ناوي سره نښلوله.

د مونډیګک په غونډئ کي د غلي د ګدامو ځایونه د یوه اوږده غولي په بڼه پیدا سوي دي چي د هرېه د آثارو ګداموته ورته والی لری خو د هړپه تر ګدامو کوچنی دی. ځنګه چي د ګدامو ودانئ د غونډئ له درو مختلفو طبقو څخه راوتلی ده ځکه نو وایی چي دغه ګدامونه د هغه وخت د انسانانو د استعمال لپاره په مختلفو زمانو کي جوړ سوي دي.

په لوړپوړ کي یوه کوچنئ خونه د ګدامو د ساتونکو لپاره لیدله کیږی چي په هغه کي یو څه خاورین او ډبرین لوښي او د مفرغ توبری (د غشي څوکه) او د مچلوغزو دختو ګولی پیدا سوي دي چي د ګدامو ساتونکو دغه وسایل د ګدامو د ساتنی لپاره کارول، د دغو دفاعي آلاتو عمر د دریوزرو کالو په شاوخوا کي ټاکل سوي دي.د غونډئ اوسنی موقعیت انسان حیرانوی .په لرغونو او د تاریخ د مخه دورو کي دغه ځای د دو سیندونو په مینځ کي د کار وانونو دتګ راتګ لار وه

دغه ټوله ورشو یو له هغو ورشوګانو څخه ده چي د تاریخ د مخه په افغانستان کي د ژوند ژواک مهم مرکز ګڼلای سوو.
د فرانسوی لرغون پیژاند او د تاریخ د مخه متخصص (موسیو کزال) لخوایی د کیندلو د کار پای اعلان کړ.د کیندلو یوولس پړاونه یي په پر له پسی ډول د مونډیګک په غونډئ کي تر سره کړل او پنځلس پوړیزه ودانئ یي په مختلفو وختنونو کي و موندله. د کندهار مونډیګک د تاریخ د مخه مدنیت ټول د برونز(ژیړو) او جستو دوری پوری اړه لری د آبادی او ژوند نښانی د غونډئ پر مخ ښکاره کوی د اوسپنی د دوری ډیر واړه آثار هم دلته په لاس راغلی دي.

د غونډئ مختلفي طبقي له کښتي څخه لوړي خوا ته جوړي سوي دي. له مځکی څخه لوړي خوا ته تر نهم پوړ پوری د نیم کوچیتوب د ژوندانه نخښي لیدلی کیږی، نو د دغو بیلګو له مخی د هغه ځای لومړنی اوسیدونکي تر څه وخته پووند ه مالداران وو، تر هغه وروسته دری پوړي ودانی له اومو خښتو څخه جوړي سوي دي چي خاورین لوښي یي په کښته طبقو کي ساده او ابتدایي دي. او وروسته تر هغه د لوښو کودري ښایسته کیږی، خښته یي اختراع کړی او بیا یي په لمر وچه کړی ده، پرخاورینو لوښو باندی یی ښکلي انځورونه لکه: د ځارویو، مرغانو، ګلانو، او ښکر لرونکی مږ، تنځری (کبک زری) پیل مرغ او د پیروتی (عشق پیچان) د پاڼو انځورونه لیدل کیږی.

د غونډئ د شپږم پوړ څخه د مفرغي فلزاتو او مس نښانئ وکټل سوي د مشهوري کمیاوی تجربي له مخي د ۱۴نمر کاربن په اصول چي په امریکاکی یي وازمویل، د مونډیګک د غونډئ د ژوند کوونکو نیټه (۶۲۵ق.م) سره سمون خوري. د موسیو کزال په قول دغه غونډئ تر پنځو زرو کالو ډیر عمر لری نو ځکه تر سنده او موهن جودیرو لرغونی ده. همدا رنګه په دغه غونډئ کي د ځارویو کوچنی مجسمي په تیره بیا هغه مجسمي پیدا سوي دي چي د مور رب النوع په نامه یي درناوی او عبادت کیدي، له دغو پژو (مجسمو) څخه د یوي په غاړه کي غاړګي یا (ګلو بند) دی او په هغه زنځیر کي چي د دواړو سینو په مینځ کی ځړیدلی دي یو ډول ګینه هم لیدل کیږی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

## ۲-شمشیر غار یا د بدوان د غره مغاره:

**په عمومی ډول** طبعي غارونه په هر ځای او د مځکی پر مخ او په ځانګړی توګه د بشري ژوند په لرغونو دورو کي د انسانانو استوګنځی او پناه ځایونه شمیرل کیږی. په غرنیو هیوادونو لکه افغانستان طبعي غارونه ډیر دي، هغه غارونه چي د بشري عمر په یوه دوره کي د انسانانو استوګن ځایونه وه په دو ډیز ډول د عوامو په مینځ کي د نوم او نښان لرونکي ګرځیدلی دي. پنجوایي دوه غرګوټی لری چي یو یی د مارکو او بل یي د خیبر په نامه یادیږی. د مارکو په غره کي یوه مشهوره (سمڅه) سته چي (شمشیرغار) ورته وایي او خلک لیدو ته ورځي.

شمشیر غار د کندهار په ۱۵میلی سویل لویدیځ او د پنجوایی د کلي په ۳ملي شمال ختیځ ته واقع دي او هلته نژدی کلي

د(بدوان) په نامه نومیږی چي د ارغنداو د رود خاني ختیځي غاړي ته پروت دی. شمشیر غار د ارغنداو له غاړو څخه

اټکلاً سل متره جګوالي لري همدا ډول د غره له کښتي خوا څخه د غار تر خولی پوري ورختل ۳۰دقیقي وخت نیسي شمشیر غار دري پوښل سوي برخي لري، مجموعاً څو پناه ځایونه لری.

۱-د لومړی پناه ځای اوږدوالی ۱۶متره دي او پلنوالی یي ۱۱مترونه رسیږی او لوړوالی یي ۲مترو ته رسیږی.
۲-دوهم پناه ځای ۱۷متره اوږدوالي او ۱۳ متره سور لري او لوړوالي یي ۶متره دی.
۳-وروسته له دالان څخه دریم پناه ځای دي، اوږدو والی یي ۳۵ متره، پلنوالی یي ۲۵ متره او لوړوالی یي ۱۰مترو ته رسیږی.
۴-څلورم پناه ځای ۴متره لوړاو خوله یي دومره تنګه ده چي تګ راتګ پکښی ستونزمن دی.

هغه څیړنی او کیندني چي په ۱۹۵۱م کال د نیویارک د طبعي تاریخ د موزیم دلرغون پیژاند استازي (مستر دیوپری) لخوا په شمشیر غار کي تر سره سوي، دا ثابته سوه چي دغه غار د (پلیوسن) په دورو کي جوړ سوي او تر تاریخ د مخه دوروکي کار نه دي اخیستل سوي خو کولای سو هغه ته یو تاریخي غار و وایو. هغه لاسوندونه چي لاس ته راغلي دي د مسیح د زمانی راهیسی بیا د مغولو دوری پوری د خلکو د اوسیدلو ځای و. د اسلامي دوري په لومړی پیړی کي شمشیر غار هم د خلکو د ژوند ټاټوبي و. په شمشیر غار کي د یو شمیرشین رنګه تیکرو شته والی، چي هغه د مغلو تر یرغل د مخه د غلغلي په ښار کي هم لیدل سوي دي، پیدا سوي دي، نو له همدی کبله د نښانو له مخي شمشیر غار د کندهار د یو تاریخی غار په توګه د افغانستان د تاریخ راز راز دوري په تیره بیا د کوشانیانو له لومړی دوری څخه د مغلو تر وروستی دوری پوری راپیژني.

د غار په د ننه کي یوه کوچنی برخه د کاسی په ډول ژوره سوي ده، د کیشش او د عبادت ځای و.او هغه د کاسي ځای د خوراکي توکو د ایښودلو لپاره چي د خلکو لخوا د بود تون (معبد) د درناوی لپاره راوړل کیدل، ټاکل سوي و، دا مقصد د غره له نوم څخه هم تر یوی اندازی ښه څرګندیږی پدی مانا چي د بدوان د غره نوم د مغاری له کبله ټاکل سوي او (بت وان) په مرور سره (بدوان) ګرزیدلي دي چي مقصد ورڅخه بت ساتونکي (کیشش) دي.

## ۳-پنجوایی:

د کندهار ښار اړونده ؤلسوالي ده چي سویل ختیځ خواته په لس کروهی کي موقعیت لری، د اسلام د ظهور د لومړی سر څخه د علاوالدین جهان سوز تر ړنګیدو پوری د پنجوایي د پر مختګ او عظمت دوره ده. دغه سیمه ډیره شیرازه، سمسوره او زرخیزه ده په ځانګړی توګه د انګورو باغونه یي ډیر شهرت لری، که تاریخی اخځونو، داستانونو او د لرغون پیژندونکو څیړنوته پاملرنه وکړو ، اټکلاً له ۵زرو کلنو د مخه دغه سیمه له کرنیزو مځکو څخه نیولی تر غارونو پوری وینو. د ارغنداو رود پر کڼو کیڼ خواته یو انسانی استوګنځی وو. چي د تاریخ د مخه او تاریخي دوروکي یي بیلا بیل وختونه تیر کړی دي.

په ۱۹۵۱م کال امریکایي څیړونکي «فیر مسروس» د پنجوایي له غونډیو چي «د مراسی او بارانی غونډي» یي بولی او د ارغنداو او ترنک د وادیو په مینځ کي د ماشور د کلي په چاپیر کي ښکاره سوي دي کیندني وکړی او وي ویل:

پنجوایي د تاریخی لرغونتیا له مخي ډیر ارزښت لری ځکه چي له دی غونډی څخه د لومړی ځل لپاره له پخي ختي د مور رب النوع یا نیم تنه پژه (مجسمه) په لاس راغلی ده. دغه الهه د (اولي تیک) په نهمه دوره یا د تیري په نوی دوره کي د تولي پخوانی نړی د قبرس او روم له کڅو څخه نیولی تر هند او چین پوری مشهوره ده. همدا رنګه د سند له موهنجو دیرو او هرپه او هم د موندیګک له غونډی څخه بیلګی لاس ته راغلی دي.

د دغو غونډیو له کیندونو څخه ګردی ډبري، کوچنی مجسمی او نور شیان لاس ته راغلي دي مجسمي راز راز رنګونه لري د مرغه د هګیو او د نیم تني ښځي په شکل دي چي مثال یي د اندوس په وادی کي هم لیدل سوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

همدارنګه د امريکايی کيندونو د هيئت غړي «مستر ديو پري» هم د پنجوايي د کلي د (دمراسی) په غونډۍ کي کيندنی وکړی. د څيړونکو په اند د دمراسی تهذيب د ږوب او لورلايي د مدنيت سره چې د اندوس د دری په غاړه کي واقع دی، ورته والي لري. دوی د ارغنداو او کندهار د نژدي او ليري ځايونو اهميت د قبل التاريخ له څيړونو او کيندونو له نظره څرګند کړ. د ارغنداو د تاريخی رود خاني د دواړو خواو سيمه په (۲-۳ق م) پيريوکي د تهذيب او تمدن سيمه وه
هغه خلک چې د پنجوايي د غرونو په غارونوکي اوسيدل، ورو،ورو له غارونو څخه د غرونو لمنو ته راکښته سوي او د ارغنداو کيڼ پلو په غاړو کي په بزګرۍ، کسب او کار بوخت سوي دي.پنجوايي د هغو اوسيدونکو له وخته چې پنځه زره کاله وړاندی پيل کيږی تر اوسه پوري يوه حاصل خيزه سيمه ده، د اسلامي دورو په ټولو اخځونو کي د(رخد) يا (رخج) نوم راغلي دي نو خامخا هلته پنجوايي هم ياد سوي دي او دا يو بشپړ طبعي کار دی، ځکه پنجوايي د ( رخج ) له ډيرو مهمو کوچنيو کليو څخه شميرل کيږی.ابو الفدا پخپل تقويم البلدان کي پنجوايي په دوو بڼو( پنجوان او پنچوايي ) ياد کړی دی او هغه د رخج له ښارونو څخه شميری، په داسی حال کي چې ابن حوقل د رخج سيمه له سجستان سره څيرمه ګڼي، او پنجوايي له هغو ښارونو څخه يو ښار ګڼي.

ليسترنج کاږي: پنجوايي ډير تينګ ښار و او ښه جومات يې درلود او خلکويي د رود اوبو څخه ګټه اخيستله، د اسلامي جغرافيا ليکونکو، د ليکنو څخه جوته کيږی چې د پنجوايي خلکو په سو کالي کي ژوند تيرا وه. او د وړيو وريشلو په کسب اخته وه، او بيت المال ته يې پريمانه شتمني ورليږله.

پنجوايي د بست او غزنی په مينځ کي پروت و.له دغه ارزښت له کبله د سودا ګری کاروانونه له لويديځ څخه غزنی او له هغه ځايه هندوستان ته تګ راتګ درلود مګر په ۵۴۵ ق کال علاوالدين جهانسوز پر بست ويرغل او هغه يي په کنډواله بدل کړ، د بست په ويجاړيدو سره د دغه ښار او پنجوايي تر مينځ د سوداګريزو لاره له مينځه ولاړه.

### ۴-د آشوکا ډبر ليک:

په ۱۳۳۷هجری ش کال په کندهار کي يو ارزښتمن ډبرليک کشف سو ، چې د تاريخ له نظره په افغانستان کي د بودايي دين د خپرښت، فرهنګ، او ادبياتو له مخي ډير ارزښناک بلل کيږي.

دغه ډبر ليک د کندهار زاړه ښار ته نژدی د سرپوزي کلي په څو سوه متري کي، په يوه توږل سوي لويه ډبره کي، چې له څهل زيني وړاندی د دوډبرو لرونکو تپو په مخ کي واقع ده، پيدا سو، پر ډبری چې کومه ليکنه کيندل سوی ده د مستطيل شکل لری چي اوږدوالی يي دوه متره پنځوس سانتی او سور يي يو متر او لس سانتی دی، د دي لوي ډبري په مينځ کي د مربع په شکل غير منظمه سطح د (۵۵) سانتی په اوږدوالی اود (۴۵) سانتی متر براوهمدا رنګه (۵۰) سانتی کښتي خواته پاکه سوي ده، او د ډبر ليک متن په دوو ليک دودونو (يوناني او آرامي) کښل سوي او کيندل سوي دی، په پورته برخه کي مضمون په يوناني ليک دود کښل سوی دي چې ټوله شميره يي ۱۳نيمی کرښي دي او د آرامي ليک شميره اووه نيمي کرښي دي.
دغه ډبر ليک د دريمي ق،م پيړی پوري اړوند او د (موريا) د کهول لوی پاچا (آشوکا) پوری اړه لري. آشوکا افغانستان ته د بودايي دين د خپرولو لپاره مبلغين راواستول، دا هغه وخت ؤ چي د افغانستان په شمال باختر کي يوناني، باختري پاچاهانو تازه په واکمنی پيل کړی و.د افغانستان په سويل کي د سلوسی کورنی (سلوکوس نيکاتور) يوناني پاچا تر ماتي وروسته، د موريا د کورنی بنسټ ايښودنکی (ګوپتا) د اندوس (سند) لخوا څخه د افغانستان سويل پلو ته د ارغنداو ترګڅو پوري يي خپل نفوذ ته پراخوالي ورکړ.

د کندهار په سرپوزه کي د آشوکا د ډبر ليک عبارت او مضمون ټول اخلاقي او د نوموړي پاچا له نصحيتونو څخه دی.
آشوکا پاچا د کندهار په ډبر ليک کي پخپل مستعار نوم ( پيوداسی ) ياد سويدی، څنګه چي ده خپله د ټولو موجوداتو له آزارولو او زورلو څخه لاس اخيستی دی، بايد د هيواد ټول ښکاريان د ځاروېو له وژلو او د کبانو له نيولو څخه لاس واخلي څو په مځکه کي خوشحالي او آرامي خپره سي. سپارښتنه سوي ده چي مور او پلار او مشرانو ته اطاعت او د نفساني خواهشاتو مخ نيوی اوسي او په ځانګړی توګه دی د هر ژوندي له زوررولو څخه ډډه وسي. د أشوکا ډبر ليک چي په کندهار کي پيدا سو، اخلاقي پندونه لري چي( ۲۳۰۰) کاله دمخه کښل سوی دی.

اروپايي علمي څيړونکو په روم او پاريس کي دغه ډبر ليک ته چي په کندها کي پيدا سو ډير ارزښت ورکړ او دا ډبر ليک په لرغونی افغانستان کي د تاريخ، ادبياتو، ژب پيژندنی او د ژبو د تاريخ له نظره ډير ارزښت وموند، ځکه چي دا لومړی ځل دی چي يو ډبر ليک په دوو ژبو يوناني او ارامي کښل سوی دی او زموږ د هيواد د يوه تاريخی ولايت څخه په لاس راځي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

## ۵-چهل زینه:

**چهل** زینه یو ډبرین دالان دی چې د سرپوزي پر غره سر بیره د اوسنی ښار لویدیځ او د زاړه ښار و شمال ته تراشل سوی دی. لوړوالي یې له مځکې څخه (۱۵۰) متره اټکل سوی دی، د دغه دالان د ښي خوا لیکنه خرابه سوی ده مګر د لویدیځ او سویلی خوا لیکنه یې په نستعلیق خط کښل سوی ده.




د کندهار چهل زینه

د نوموړی دالان دواړو اړخونو ته پخوا د زمریانو مجسمې وې چې اوس یې بدنونه سته او سرونه یې جدا سوي دي د ظهیر الدین محمد بابر شاه او اکبر د زماني د حجاری او معماری له ښو یادګارونو څخه ګڼل کیږی. د بابر په امر ۹کاله ۸۰کسانو سنګ تراښانو کار پکښې کړي دي دغه ډبر لیک میرزا کامران، میرزا عسکری او میرزا هندال چې د درو آبدو مهتممین وه.او په هغه کې یې د پیل کال ۹۳۰ هجری ق او دختم کال ۹۵۳ه ق کال لیکلی دی. وایي چې میر معصوم کندهاري چې د اکبر له منصبدارانو څخه و. په ۱۰۰۴کال کې د بهکر سنګتراشانو په څلور کاله کې بل ډبر لیک د همایون په نامه هم پر اضافه کړ او د اکبر د ښارونو او ولایتونو نومونه یې پکښې وکښل، دچهل زینې د طاق مخ ته یو ښه زړه وړونکې ځای هم جوړ سو چې هغه هم د غره په تیروکې کیندل سوی دی، مخ یې د کندهار د اوسنی ښار او د ارغنداو پر خوا خلاص دی. چې د کندهار لویدیځې زرغونې منظرې او سمسور ارغنداو تر لاندې دی.

## ٦- کوهک

دغه کلا د ارغنداو د سیند په لویدیځه خوا کې پرته او ډیره ټینګه چاونی وه د اسلامي دورې په لومړیو کې د زابلي رتبیلانو کلا وه. دغه ټینګه کلا د بیهقی تاریخ په وینا (شارستان رتبیل) وه او د غزنویانو تر وخته پوری موجوده وه. د سیستان او بست د بریدونو لخوا د کندهار د سیمو د د فاع ځای و، رتبیل په دغه ځای کې د یعقوب لیث صفاری سره جنګونه کول. په ۲۵۲هجری-۸۶۶م لیث د رتبیل د اکا زوی صالح بن حجر په دغه کلا کې بندی کړاو صالح هم په دغه کلا کې ځان مړ کړی او د هغه مړی یې د کلا څخه کښته راواچوی.
د حدود العالم لیکوال کوهک د پنجوایي د ښار ګوټي څخه شمیری، اوس هم د کوهک د پخوانی کلا پایڅوړ(بقایا)د ارغنداو د رود په شنو او سمسورو کرنیزو مځکو کې له ورایه معلومیږي او په دغه کلي کې خلک د پخوانیو پاچاهانو کیسې بیانوي. د دغه نوم املا د غزنوی دوری په کتابونو کې او وروسته تر هغه کاتبانو تغییر پکښی راوړی دی،کوهژ، کوهتیز او کوهیشیر کښل سوی دی.
په درنښت

### اخځونه:


1 - افغانستان در پرتو تاریخ کهزاد
2 - افغانستان بعد از اسلام ...حبیبی
3 - آریانا دائره المعارف ...اکادمی علوم
4 - تاریخ مختصر افغانستان ...حبیبی
5 - اراکوزیا ...نجیب
6 - کندهار د تاریخ په اوږدو کې ...د مقالو ټولګه




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ